# د پښتونخوا په ادب د انقلابِ ثور اثرات

## Impact of Sour revolution on Pashto Literature

پروفېسر ډاکټر نصرالله وزير*

**Abstract:**

The political change in Afghanistan, in April, 1978, was such a global change which not only affected lives of the people of Afghanistan deeply but also rest of the population of the world on one or the other way. In this paper, the writer strives to unpack the literary impacts on the literary genres of the area concerned, with the special reference to its background elucidated in the prose and poetry of the said people.

د پښتو جديد ادب ابتدا چې د نولسمې پېړۍ له وروستۍ لسيزې څخه را شروع شوې او بيا د شلمې پېړۍ تر نيمائي راپه دې خوا ئې يو ښۀ پر مختګ شوی. د شعر او ادب په بيله بيلو اصنافو کښې نوې نوې تجربات شروع شوي. دجديد علومو اود سائنسي انکشافاتو په رڼا کښې نوي نوي موضوعات را داخل کړل شوي. په دغه دوران کښې ادب د چاپېريال د پېښو، د اولس احساساتو او د جذباتو ترجماني ته خاص وقف کړلی شوی. يعني ادب په صحيح معنا سره د اولس نمائنده اوګرځولې شو.

هسې خو د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختيا دپاره په لره او بره پښتونخوا کښې په انفرادي او دولتي سطح کارونه کېدل او دا سلسله د شلمې پېړۍ تر وروستۍ لسيزې پورې په يو ډول روانه وه. خو تر کومه چې په پښتو ادب کښې د ترقي پسند او اشتراکي ادب د خپرونې او خپلولۍ تعلق دی نو د هغې په لويه پيمانه تشهير او اختيارول د ۱۹۶۵ء څخه را په دې خوا هغه وخت کېږي کله چې په افغانستان کښې د خلق ډيموکرټيک ګوند بنياد کښېښودل شو او بيا هغه وخت کله چې په ۱۹۷۸ء کښې د ثور انقلاب يا د کودتا نغاره غږول کېږي، نو له دې څخه نۀ يوائې د اديبانو په رويو کښې بدلون راغی بلکې ادبي زاوئې هم په څو ډوله تغير و ښودلو. هغه

* Director, Pashto Academy University of Peshawar

موضـوعات چـې پـه خـوا پـه علامتـو کښـې او یـا بـه محـض د شـوق او فېشـن پـه توګـه اختیـارول کېـدل، اوس پـه بشـپړه توګـه د ادب وظیفـه و ګرځېـدل. لکـه د مـارکس ادبـي تیـوري، د ټـولنیز سوشـلزم نظـام تیـوري او هـم دغسـې ددې دواړو پـه رد کښـې د اسـلام د جهـادي ادب د مفکـورې بشـپړه تشـهیر پـه ادبیـاتو کښـې عـام اثـر اوښـود یعنـي داهغـه نظریـات وو چې پـه افغانسـتان کښـې ورلـه پـه لویـه پیمانـه پـه ادبـي اوسیاسـي چوکـاټ کښـې ځـای ورکړلـې شـو. کـه څـۀ هـم پـه نـوره نـړۍ کښـې د مخـه اختیـار کـړل ولـې پـه افغانسـتان کښـې ددې تـر مخـه ددغـو نظریـاتو تـه پـه پښـتو ادب کښـې پـه دومـره لویـه پیمانـه چـا ځـای نـۀ و ورکـړی ځکـه دې تجربـاتو د اولس په ژوند او په ادب یو ډول ژور او پراخ اثر اوښود.

د دې نـوي طـرزِ فکـر پـه عـام کېـدلو کـه څـۀ هـم یـوې خـوا پښـتني ټولنـه پـه سـختو مشـکلاتو کښـې واچولـه، خـو د دې بـې کچـه زیـانونو تـر څنـګ ئـې ځنـې مثبت اړخونـه هـم پرېښـودل، لکـه: لـه دې سـره پـه پښـتو ادب کښـې د زمـانې را روانـه یـك رنګـي لـه منځـه ولاړه، نـوي موضـوعات او نـوي مـواد را داخـل کـړل شـول. پـه پښـتو کښـې د مـزدور او بزګرسـندره اوچتـه کـړل شـوه، د مظلـوم او خـوارد غـم او ویـر سـاندې اوویـل شـولې. د اسـتعمار او اسـتثمار، د پرولتاریـه او بـورژوا بحـث پـه پښـتو کښـې هـم عـام محسـوس کړلـی شـو. ورسـره د دې پـه رد کښـې جهـادي، دینـي او د ملـي ادب د موضـوعاتو تجدیـد لـه نـوي سـره تعـین اوکـړی شـو. نـو هغـه ادب چـې د دې دواړو ډلـو لـه خـوا تشـکیل کېـدۀ، زیـاتره پـه شـعر او یـا بـه پـه نثـري اصنافو کښـې وو. لکـه: افسـانه، نـاول، تـذکره، د ژونـد خـاطرې او یـا سـفرنامه وغیـره. ولـې پـه دې ټولـو اصـنافو کښـې چـې کـوم واحـد ادبـي صـنف ډېـر زیـات کمـزوری او یـا دنیشـت برابـر لیـدل شـوی، هغـه ډرامه ده. چې په دې ټوله دورانیه کښي ببخي په نظر نۀ راځي.

پـه پښـتو ادب بانـدې ددې دور د اثراتـو تجزیـه پـه لانـدې کرښـو کښـې یـو څۀ په اختصار سره وړاندې کولی شي.

## په نثر کښې اثرات :

لکه وړاندې ورته اشاره شوې ده هلته په بره خوا کښې د انقلاب او ردِ انقلاب د شخړې له کبله یوه لویه ادبي ذخیره منځ ته راغله. خو هغه ادب چې د دې پېښې په عکس العمل کښې د کوزې پښتونخوا په ادب کښې ښکاره شوی ، هم د یادونې وړ او دلته د دې موضوع بنیاد ګرځول شوی، که څۀ هم د هغې د مقدار او معیار مسئله د بیا وخت خبرې دي. خو هغه لیکوالان او شاعران ، چې هغوئ په ذهني او فکري توګه له دې پېښې نه متاثره شوي او د افغانستان په دې ناورین ئې ښکلې ادبي تړوتې په خپلو اثارو کښې راوړي. د هغوئ د هغو اثارو او افکارو په اساس بحث به زمونږ د دې مقالې مرکزي نکته وي. له دغسې شخصیاتو نه چې د دې پېښې نه ټېغ په ټېغه یا په اړوند توګه زیات متاثره شوي څخه لومړی ستر شخصیت د پښتو جدید ادب لوی نامتو شاعر او ادیب ښاغلی اجمل خټک دی، چې د خپل زړۀ تړوله خواله ئې د غیرت په چغه، د افغان په ننګ، د ګل او پرهر او یا په ګلونه تکلونه کښې ټول پښتون ملت ته ورشریکه کړې ده. هغۀ خپل احساسات د شعر او شُعور په ژبه د پښتو، پښتون و پښتونیت، پښتونوالۍ ، قومي وحدت او د خپلواکۍ په خاطر له هر پښتون وګړي سره شریک کړي .

اجمل خټک چې یو نامتو سیاستمدار او د پښتو د شعر او ادب ستر قهرمان منل شوی، داسې شخصیت دی چا چې په دواړه خوا د قومي شُعور په خپرولو کښې لوی لاس لرلی. ډېر انقلابي ځوانان براه راست د هغۀ له فن څخه متاثره شوي او هم د هغۀ له فکر او فن څخه ئې فیض اخیستی. د هغۀ په اشعارو به مترقي ځوانانو یو رنګه جوش او جذبه ښودله او خپل عزم او ولوله به ئې پرې لوړوله. د افغانستان هغه ځوانان چې په افغانستان کښې ئې د قومیت او وطنیت مفکوره پر مخ بېوله، د هغوئ په ذهن او فکر د اجمل خټک د شخصیت او فن یو لوئ اثر پروت دی . هغوی به پر هر ډګر د هغۀ له قومي او ملي اشعارو څخه ټېغ په ټېغه فیض اخیستۀ او د هغۀ اشعار به ئې لکه بل مشالونه له ځان سره ګرځول. چونکې اجمل خټک له یوې زمانې په افغانستان کښې جلا وطن ؤ، د انقلاب د مخه څۀ چې هلته

پېښـېدل او يـا هغـه څـۀ چې د انقـلاب پـه دوران کښـې شـوي هاغـه هـر څـۀ د هغـۀ پـه نظـر کښـې وو. پـه دې وختـو کښـې لېـدل شـوي چې مترقـي ځوانـان بـه لـه دۀ سـره د قـومي، نظريـاتي، اشـتراکي او د پښـتون ملـت د وحـدت پـه بحثونـو کښـې بوخـت وو. خـو هغـه کلـه هـم پـه دې فکـر نـۀ دی قـانع شـوی چې د پښـتون نېشـنل ازم پـه ځـای دې د يـو اشـتراکي سوشلسـټ نظرئـې او يـا نظـام پلـوي شـي. کـه څـۀ هـم هغـه يـو ازاد خيـال، ترقـي پسـند، جمهوريـت پسـند او تـر څـۀ حـده سوشلسـټ اديـب او شـاعر ؤ. خـو د هغـۀ سوشلسـټ نظريـه د يـو ائيډيالسـټ پښـتون پـه توګـه وه نـۀ چې د يـو کېمونسـټ پـه توګـه. خـو لـه دې څخـه انکـار نـۀ شـي کېـدی چې: "د غېـرت چغـه" نـۀ يـوائې د پښـتون د نـوي کهـول لـه زړۀ راوتلـې چغـه ده بلکې دا ئـې د زمـانې د سـوي ارمـان چغـه هـم ده. د اجمـل خټـک لـه شخصـيت سـره تضـاد کېـدلی شـي، د هغـۀ لـه سياسـي تـړون سـره اخـتلاف کېـدلی شـي خـو دا ممکنـه نـۀ ده چې د هغـۀ لـه فـن سـره دې څـوک تضـاد ولـري. د اجمـل خټـك شـاعري د هغـۀ د ژونـد د حادثـاتو او د زمـانې د واقعـاتو يـوه لويـه خزانـه ده، خـو کـه د هغـۀ پـه شـاعرۍ او پـه نثـر کښـې هغـه څـۀ را وسـپړل شـي کـوم څـۀ چې د انقـلابِ ثـور يـا د ثـور د کودتـا د اثـر لانـدې لېـدل شـوي، نـو دا يـو حقيقـت بـه لـه ورايـه تـرې ځرګنـد شـي چې ښـاغلی اجمـل خټـک هغـه شخصـيت دی چې ئـې د خپـل فکـر او فـن پـه واسـطه نـۀ يـوائې پښـتنو تـه د قـومي شُـعور احسـاس ورکـړی بلکـې پـه هغـوئ کښـې ئـې د قوميـت او د وطنيـت جذبـه د خپل فن له لارې د عام کولو شُعوري هڅه هم کړې ده.

هغـه وخـت کلـه چې پـه افغانسـتان کښـې حـالات بـدل شـول، شـوروي مـاتې اوخوړلـه، انقلابيـان يـو څـو زمانـه پـس تـه لـه واك نـه بهـر کـړل شـول، نـو هلتـه پـه دې ګـډ وډ حـالاتو ښـاغلي اجمـل خټـك هـم اونـۀ کـولی شـول چې دې د جنونيـانو پـه رحـم او کـرم هلتـه کښـېني. ځکـه څـۀ وخـت چې هغـه لـه کابـل څخـه لـره خـوا تـه را روان شـو، نـو پـه تـورخم تـرې يـو چـا د هغـۀ دسـرې ډولـۍ حـال اوپوښـتلو. خـو ښـاغلي اجمـل خټـك چُپـه خولـۀ ؤ حـال ئـې نـۀ وئيلـو. هـم دغسـې چې تـر کـوره را رسـېدو، نـو د سـوالونو پـه انبـار کښـې راګېـرؤ. چـا تـرې دا هـم اوپوښـتل "چې هغـه تـا چې وئيـل هغـه څـۀ وو؟ او دا اوس چې مـونږ ئـې وينـو دا څـۀ دي؟". تـر دا پـورې چې د هغـۀ تېـر کـردار او شخصـيت تـه ډېـر د شـك پـه نظـر

اوکتـل شـول، خپلـو او پـرادو ورپـورې پسـخند شـروع کـړ. پـه پاکسـتان کښـې د هغـهٔ کـردار اوس د یـو قـومي مشـر پـه ځـای د یـو بـل څـهٔ پـه توګـه د وړانـدې کـولې هڅـې پېـل کـړل شـوې. خـو اجمـل خټـك بـه چا تـه هېـڅ نـهٔ وئيـل او پـه هـر څـهٔ ئـې ځـان ګـونګی کـړی ؤ. خـو دا سلسـله تـر هغـه جـاري وه تـر څـو چـې هغـهٔ د "د افغـان ننـګ" نـهٔ ؤ را ايسـتلی. کلـه چـې د "افغـان ننـګ" راميـدان تـه کـړی شـو، نـو هغـه چـې پوهېـدل ورتـه د هـر سـوال ځـواب تـر لاسـه شـو. پـه "افغـان ننـګ" کښـې ښـاغلي اجمـل خټـک هغـه څـهٔ بيـان کـړل څـهٔ چـې د انقـلاب تـر مخـه او د انقـلاب نـه وروسـته هغـهٔ محسـوس کـړي وو او هـم دغسـې بيـا تـر اکـوړې پـورې د خوشـحال بابـا د زيـارت قـومي او ملـي ارزښـت او لـه دې ځـای نـه د جهلـم او اِسلام اباد پورې د کُل پښتون درد ئې يو شان محسوس کړی.

د ,,افغـان ننـګ،، پـه راوړلـو سـره ښـاغلي خټـك صـاحب ځينـې ډېـر تـراخـهٔ حقيقتونـه هـم وړانـدې کـړي دي. د انقـلاب پـه حقلـه د هغـهٔ خپلـه مـدعا او د فخـرِ افغـان باچـا خـان هغـه دريـځ چـې هغـهٔ لـه اولـې ورځ واضـح کـړي ؤ، ښـاغلي اجمـل خټـک صـاحب د باچاخـان هغـه دريـځ تـه د هغـه ورځـو د حـالاتو پـه رڼـا کښـې يـو ځـل بيـا پښـتنو پـه وړانـدې تکرار کړلـو. ښـاغلي اجمـل خټـک پـه خپـل دا ثـر کښـې د ځينـو مجاهـدينو پـه پټـو اړيکـو او دهغـوئ د ځنـو مشـرانو کـردار ئـې پـه واضـح توګـه غنـدلی. چـې د هغـهٔ دغـه ناقدانـه نظـر د روانـې شـخړې پـه حقلـه ځينـو غـوره مطـالبو تـه اشـارې دي، هغـه د لاليشـکو (حسـن خـان) کـردار څخـه دا راښـائي چـې څـهٔ ډول بـه د خوشـحال بابـا د افغانيـت فکـر او عـزم فلسـفه يقينـي کـړی شـو، د خلقيـانو دناترسـه ظلمونـو حـال ئـې د لېـوني اغاجـان پـه کردارکښـې را تـه وړانـدې کـړی. هـم دغسـې کلـه چـې د لکهـاوو کـډوالو دربـدري اود بـې سـر او سـامانۍ د ژونـد او ترخـو حقيقتونـو پـه بيـانولو سـر شـوی، نوهغـه کيفيـت چـې هغـهٔ محسـوس کـړی، يـوائې د هغـهٔ د فـن کرشـمه نـه بلکـې دا د هغـهٔ د زړهٔ لـه تـل نـه راوتلـې هغـه څړيکـې دي چـې ئـې د خپـل قلـم پـه تـاب اهـلِ و فکـر و نظـر تـه د ور رسـولو هڅـه کـړې ده، دې لـړ کښـې د هغـهٔ د کتاب نه يو اقتباس پېش کوم.

"زمـونږ پـه چـم کښـې اوسـېدونکی احمـدزی مامـا (افغـان مهـاجر) هـم ناسـت وهٔ، چـې د احمـدزو مشـر او هلتـه لـوئ خـان وهٔ، ولـې دلتـه فقيـر دی، دلتـه

يـو مـديرصـاحب هـم لـه دې خلقـو سـره اوسـېدو، چـې د ځـدرانو خـان او حکومتونـو کښـې رئـيس وۀ، ولـې هغـه لکـه د پـه خوانـو کوچيـانو د خـوارۍ ژونـد تېرولـو.... مخـامخ دروازه کښـې يـو جګړن (مېجـر) هـم د خپلـې رېـړۍ سـره ولاړ دی، بانجـان خرڅـوي او غـم کـوي چـې د شـپې دپـاره بـه د خـوراك څـۀ وګټـي که نۀ!".(۱)

ښـاغلي اجمـل خټـك صـاحب پـه دې ادبـي زيـار کښـې د تـاريخ هغـه تراخـۀ حقيقتونـه د بيـانولو هڅـه کـړې ده چـې د مخـه ئـې هغـۀ داسـې چرتـه ښـکاره بيـان نـۀ ۇ کـړی، دا هـر څـۀ هغـۀ د سـبا منصـفانو تـه پـه دا خـاطر ورانـدې کـړې، چـې د هغـۀ د قـوم د سـبا بچيـان ئـې بيـا ګـوره څـۀ رنګـه تعبيـر کـړي. د هغـۀ پـه دې خـاطراتو کښـې د عبـدالرحمن پـژواك د دربـدرۍ د ژونـد حـال هـم راوړل شـوی، چـا تـه چـې د پاکسـتان مُتعصـبه او پښـتون دښـمنه ليکـوال زاهـد چوهـدري د خوشـحال بابـا نـه پسـته دويـم سـتر شاؤنسـټ وئيلـي دي. دا د افغانسـتان لويـه بدمرغي وه چې ئـې هېـڅ د سـر سـرې خونـدي پـاتې نـۀ شـو او هغـه څـوك چـې ئـې د پښـتونيت ځنـې لـوئ دعـوې پـه زړۀ لرلـې هـم دغـه خلقـو تـه پـه لاس ورغلـل. پـژواك هغـه څـوك ۇ چـې ئـې ډېـر څـۀ پـه زړۀ ۇ خـو د هغـۀ د ارمـانونو تعبيرګـوره څـۀ د بـدو خُوب ورته ښکاره کړي. اجمل خټك په خپل کتاب کښې ليکي چې:

"د افغانسـتان د لـوی پښـتون، لـوی ډيپلـو مېـټ او لـوی حکـومتي شخصـيت (عبـدالرحمٰن) پـژواك صـاحب..... ملاقـات تـه ولاړم او د هغـه حالـت مـې وليـد نـو ژړا راغلـه.... او بيـا چـې د معـين صـاحب کـور تـه ولاړم او د هغـه د مانديني د کابل د وخت او د نتني حالت مقايسه را مخکښې شوه"(2)

ښـاغلي خټـك دغـه رنګـه نـور ډېـر واقعـات د دې اثـر پـه وړو وړو داسـتانونو کښـې بيـان کـړي دي. هسـې پـه ظـاهره خـو دا ډېـرې سـاده او عـام وړې وړې قيصـې ليـدې شـي، ولـې کـه پـه ژور نظـر ورتـه اوکتلـې شـي نـو دا هغـه څـۀ دي کـوم چـې د ښـاغلي اجمـل خټـك د زړۀ پـه وينـو خـړوب کـړل شـوي دي. د افغانـانو خپـل منځـي تنظيمـي، نسـلي او ژبنـي اختلافـاتو پـه بنيـاد لـه اسـلام آبـاد نـه تـر ايـران، لـه ايـران نـه تـر امريکـې تـګ، د مکـې معظمـې پـه مقـدس مقـام هـره فيصـله شـنډېدل او قسـم پـه قسـمونو مـاتول، دا ټـول هغـه څـۀ دي چـې د کابـل واکمنـۍ لاس تـه د را وړلـو د پـاره ډېـر پـه بـې شـرمۍ سـره کېـدل. ځکـه

دلته ښاغلی ختټك صاحب په دې اثر کښې هر هغه څۀ ته متوجه شوی ، چې د هغۀ په فهم د پښتون ملت د ځورولو د پاره به کېدل او په خپل وار ئې هر چا ته دهغو سوالونو ځواب وئيلی چې له هغۀ څخه پوښتل شوي وو.

د افغانانو يو له بله کرکه، د قبائليت په شکنجو کښې لوېدل، د غېرو د نظرياتو په سر له يو بل سره لوېدل ، بيا هغه د دُراني او د غلجي شخړه، د خلقي او د پرچمي لېوتتوب او په اخر کښې د مجاهد او د طالب غوزنګونو هم دومره وکړی شوه چې د پښتنو ملي حاکميت ئې د غېر غماز په جولۍ کښې ور واچولو. ښاغلي اجمل ختټك په ,,افغان ننګ،، کښې د ډاکټرنجيب الله د واك پرېښودو نه پسته حالاتو چې څۀ ډول ځورولی ، د هغې يو نمونه په دې لاندې پېراګراف کښې اوګورئ.

"نن يې دا حال وۀ چې په هر کور کښې مور د لور دپاسه، پلار د زوئ دپاسه، ماشوم د مشر دپاسه، مړۀ او حلال پراتۀ وو او د جنازې يې څوك نۀ وو ...او نۀ د هغې د بام وچت نه پېغلې ځان را غورځي، او ځان وژني چې حيا و ناموس وساتي ....او نن هلته د نارينوو په لاسونو او سرونو مېخونه وهلي شول او د زنانوو سينې پرېکېدې ....نن هلته په برمو سروی (سوري) شوې سينې په چاړو مسخ شوې څېرې، د اور په سرو سيخو ړندې شوې سترګې، تالاشوی عزت، لوټ شوی ناموس راځي، يا مړي دي يا د مړو غوښې دي يا وينې دي".(3)

د افغانستان د ثور انقلاب د کود تاله بدو پېښو څخه هغه تاثر چې اجمل ختټك په خپلو فن پارو کښې محسوس کړی، نۀ پوهېږم چې به کوم بل افغان په دغه شان محسوس کړی او وړاندې کړې وي. غرض دا چې د هغۀ ,,افغان ننګ،، نۀ يواځې د افغان ننګ دی بلکې د هغۀ د زړۀ او ذهن نه راپورته کېدونکي هغه سوي لوي فريادونه او اهونه دي چې په اورېدو ئې د لوستونکي په زړۀ او ذهن هم هغه شان لمبې پورې کوي ، کوم راز چې ئې د هغۀ وجود سوی لوغړن کړیۀ. خو ناپوهانو ته به دا محض د الفاظو سکښت او چهاړ ښکاري ولې هوښياران په دې پوهېږي چې دا د هغه غېرتي پښتون د وينو شور دی چې خپل ځوان کهول د دې وينو په غورزنګ کښې د يو ټاکلي هدف په لور د بېولو هڅه کوي.

د کــوزې پښــتونخوا پــه نثــرې ادب د انقــلاب او د مابعــد انقــلاب اثــرات پــه شعر کښــې هر څو کـه تر یو حده شتون لـري ، ولـې پـه نثري اصنافو کښـې دا بیـا ډېــر کـم او یــا د نیشـت برابـر دی، پــه تېـره پــه نــاول او ډرامــه کښــې خــو بیــا بېخـي نــا حســابه دی. البتــه د ښــاغلي فــاروق ســرور تــازه چــاپ شــوی نــاول " سـګوان" کـه څـهٔ هـم د عنـوان تـر مخـه د کنـدهار د سـګوانی د مشـغلې پـه حـال پـورې اړه لـري. خـو دا لـه انقـلاب یابعـد از انقـلاب د اثراتـو خـاص څرګندونـه نـهٔ کــوي بلکــې دا د عــالمي اســتعمار څــو رنګــه څهــره ښــکاره کولــو یــو زیــار دی. ځکـه د هغـهٔ پـه داخلـي مـوادو او لـه دې موضـوع سـره ښـلولو زيـات ټينګـار نـهٔ کــوؤ . هــم دغســې د لاجویــه ډرامیــز ادب کښــې خــو بېخــې داســې خــاص څــهٔ نــهٔ دي مـنځ تـه راغلـي چـې پـه دې واقعـې پـورې دې مربـوط اثـار پکښـې وي. نـو پـه دې اســاس دا د پښــتو ډرامــه ایــز ادب ســره یــو تــاریخي او ادبــي جبــر دی چــې دا دومــره لویــه پېښــه پــه افغانــانو تېرېدلــه، ولــې هــېڅ یــو لیکــوال ؤنــهٔ توانېــدو چــې لـه دومـره ویرېـا مـوادو څخـه یـوه هـم اهمـه ډرامـه تشـکیل کـړی شـي. دې تـه بـه بـې لــه دې نــور څــهٔ اووایــو چــې دا د یــو ملــت د قــومي او ملــي احســاس د وژل کېــدو تــر څنــګ د هغــويي د علمــي و فکــر احســاس تــر وژل کېــدو بــل څــهٔ نــهٔ وو. چــې را ګرځونــه بــه ئــې ډېــر وختونــه وغــواړي. خــو د دې پــه مقابــل کښــې بیــا افســانه دومــره قــدر ده چــې یــو څــو افســانه نګــارانو پــه دا حقلــه پــه خپلــو افســانوي اثــارو کښــې یــو څــو افســانې ضــرور راوړي دي چــې پــه خپلــو افســانوي مجموعــو کښې ئې محض ددې موضوع نخښې ورکوي .

پــه کــوزه پښــتونخوا کښــې یــو څــو لیکونکیــو افســانې چــې پــه نظــر راځــي، لــه هغــو نــه د ښــاغلي فــاروق ســرور " "ګرګــی ګېږکــه" او د هغــهٔ " ز مــري " نــومې افســانه یادېــدلی شــي. ښــاغلی فــاروق ســرور لــه یــوې مــودې را هیســې دطبقــاتي او ســماجي مســائلو پــه چوکــاټ کښــې د علامتــي انــداز افســانو ښــکلي رنګونــه را پېژنــدلي او پــه پښــتو افســانو ي صــنف کښــې د هغــهٔ افســانې یــو خــاص اُســلوب لــه کبلــه ځانتــه یــو مقــام ګټلــی. د هغــهٔ افســانوي مجموعــه " ګرګــی ګیژکــه"پــه دا اړه یــو ښــهٔ ادبــي زیــار بلــل کېــدلی شــي. د هغــهٔ نــورې مجمــوعې لکــه: لېــوهٔ، دریــه، تنــده او ســکروټې پــه نامــه چــاپ شــوې دي. پــه دا ګــړدو کښــې د هغــهٔ د مخصــوص علامتــي رنــګ انــداز غالــب دی.

ولې د هغهٔ علامت نګارۍ کوم دومره مشکل هم نهٔ دی پیدا کړی چې هغه دې ښکاره او ښکاره تور نهٔ کړي شي. فاروق سرور يو ځيرك، باريك بين، نکته شناس اديب دی، چې په خپلو فن پارو کښې ئې نهٔ يواځې د خپلې ټولنې درد محسوس کړی بلکې د هغې تشخيص ئې هم ورته ښودلی. پرته له دې د هغهٔ په افسانو کښې يو څهٔ داسې علامتونه هم راوړل شوي چې د هغو په پس منظر کښې د پښتنو د دې ستړې پېښې په اړه څرك ترلاسه کېدلی شي. لکه: په "ګرګی ګېرکه" نومې افسانه کښې د پښتون اولس په ضد د نړیوال فکر دوه رنګي ته حېرت وړی پاتې شوی. هغه د نړۍ د ستر مبارز چې په خوا د ګرځي نړۍ د سر سترګې او د زړهٔ سر ؤ اوس ولې دومره په رذيل، ذليل او ورټلی شو چې هر چېرې د ترهګر او يا د لوئ دهشت ګرد په توګه سپکولی او شړلی شي، فاروق سرور په خپله يوه افسانه کښې دغه صورتحال په دې ټکو بيانوي:

"دوئ وايي چې تهٔ دهشت ګرد او وران کار يې، خو تراوسه يې دا تور نهٔ دی ثابت کړی، بهرحال اوس دا زما معمول دی چې دوئ ما بولي او زهٔ ورځم.....زما قصور دا دی چې زما د فلېټ ملګری چرې چې د بم د چاودنې په تور کښې ونيول شو، که څهٔ هم هغه عرب ؤ او زهٔ غير عرب، زمونږ تر منځه څهٔ اشنايي او نژدېکت هم نه ؤ ..... بهرحال اوس د پوليس دا ګمان دی چې زهٔ د هغه رازداره يم، په هرڅهٔ يې خبر يم، او زمونږ تعلق د درېمې نړۍ له دهشت ګردانو څخه دی".(4)

کله چې شوروي له افغانستان څخه پښې جار ايستې، نو تر هغې يوه بله ستره پېښه په يو بل شکل کښې په پښتنو را نازلېدو ته تياره وه، د امريکې ناولي عزائمو نه فاروق سرور په دې ټکو پرده پورته کوي:

"دا څه الوتکې هره شپه زمونږ په کلي حملې کوي او په درځنو انسانان وژني، له ښهٔ مرغه زما ادې او زما کوشني ورونه بچ دي، دا ټولې د امريکې الوتکې دي ..... خاورې دې شي دغه يورپ، ورك دې شي دغه سپين پوستي، مونږ ټول دوئ تباه کړي يو، په سرهٔ اور کښې يې اچولي يو ....".(5)

هم دغه شان په "زمري" نومې افسانه کښې د جلات خان د کردار تر شا د غليم هغه ټولې کړنې رابښائي چې له: کبله ئې دا وطن ټول په سرهٔ اور

کښې اچولی. د هغهٔ پېریانو سره واسطه، غلا توري او هر ډول ناروا کول او د شوروي په ضد د پیر د ډلې نامتو قومندان او د ورور وژنې نامتو سر اتل په توګه پېژندل شوي شخصیت اصل څېره را پېژني. د ښاغلي فاروق سرور د افسانو مهمه نکته دا ده چې هغهٔ په دې افسانو کښې هغه څهٔ ته د لوستونکي پام د ورګرځولو زیار کړی، څهٔ ته چې په عمومي سیاست کښې د یو چا نهٔ ور پام کېږي. یعنې هغهٔ د دې شخړې په اصل محرکاتو د قاري ذهن ورخلاصولو تدبیرونه په علامتي انداز کښې ورته وړاندې کړې.مګر د ښاغلي فاروق سرور لویه مجبوري دا ده چې هغه د مرض تشخیص او دُرملي له لورې خوا او په اینتهي بائتهک طرز دود سره کوي ، نهٔ دا چې د مریض خپل ماحول ، زړهٔ او ځیګر ته خو هم متوجه شي.

یو لړ ځنې داسې نور افسانه نګاران هم شته چې یې دغه پېښه ډېر په شدت سره محسوس کړې ده په دغه مقاله کښې د ټولو افسانه نګارانو د افسانو جاج اخستل ممکن نهٔ دی خو مونږ دلته فقط د طاهر افرېدي په افسانو بحث کوو.

طاهر اپریدی دجدید پښتو افسانوي ادب هغه غښتلی لیکوال دی چې زیاتره افسانې ئې دټولنیزو مسائلو په چوکاټ کښې اچولې دي. ولې یو څهٔ افسانې ئې داسې هم دي چې په هغو کښې د قومي او ملي مسائلو عکاسي شوې ده. لکه: په "زنځیر تړلی خوب" او "هلته هم زهٔ مرم" نومې افسانې ئې یو ښهٔ مثال دی. په دا افسانه کښې هغهٔ د پښتنو په مځکه د ډېرش کالنۍ جګړې د ځنې واقعاتو روداد راوړی. چې په کښې د پښتو د دربدرۍ او بربادۍ احوال بیان شوی. هر کله چې په دې ځانمرګي لوبه کښې د ډالرو کاروبار د خچرو په حساب را مات شو، نو د انسان د وینې ارزیابي په دا رنګه شوه چې په خپله غلیم او یرغلګر هم دومره توقع ورځخه نهٔ لرله. دغه هرڅهٔ ښاغلي طاهر افرېدي په علامتي انداز په خپله یوه افسانه کښې داسې بیانوي:

"هغه ټول زما په شا ولاړ وو او د سپین هاتهي د غوږونو خیري یې را توژل او د شاتو په شان یې څټل، او د هاتهي سوټې یې داسې را ټولولې لکه دجال په خرهٔ سپور راغلی وي او د هغه خر د سرو زرو پېچې کوي ...... او چې

د هـاتهي د غوړونـو پـه خيـري ښـۀ مـاړۀ شـو، او د دجـالي خـر د سـرو زرو پېچونـه يـې جېبونـه، لمنـې ډك كـړل نـو د سـپين هـاتهي خاونـد برګـه ټـوپۍ پـه سـر راغلـو او دغـو كسـانو تـه يـې پـه روڼ تنـدي هركلـي او سـترې مـه شـې ووې ..... بيـا يې پـه غـوړو كښـې څـۀ پـټ پـټ ورتـه ووې ..... هغـوئ ورتـه دا هـم ووې: "سـتا دښـمن سـتا د عقيـدې، سـتا د مسـلك، سـتا د روايـاتو، سـتا د كلچـر او سـتا د نـوم دښـمن دى او كـه خـداى مـه كـړه هغـه پـه تـا غالـب شـو سـتا بـه نـوغې وباسي"(6).

ددې پـه عكـس العمـل كښـې بيـا كلـه چـې وروسـته ټولـه پښـتونخوا پـه دا اور كښـې راګېـره شـوه نـو ښـاغلي طـاهر افريـدي د يـو باشـعوره افسـانه نګـار پـه حېث د دغو واقعاتو انځور په افسانوي رنګ كښې داسې پېش كړو

" اورونـه بـل شـو لمبـې پورتـه شـوې، لـوګي خـوارۀ شـو، كورونـه وران شـو، ځوانـان قتـل شـو، ځـوانې كونـډې شـوې، پېغلـې سـرتورې شـولې ....... زمـا تهـذيب، ثقافـت، قـديمې نسـخې د بـارودو پـه لمبـو ايـرې ايـرې شـولې، زمـونږ لاسـونه، زمـونږ سـرونه او زمـونږ تنونـه پـه خوړونـو، سـپندونو كښـې لكـه د حسـنيو، خليـو بهېـدل ..... مـا بـه پـه هغـه ګـزار وكـړو، نـو د هغـه د كـور دېـوال بـه ونړېـدو او چـې هغـه بـه را بانـدې چپـاو وكـړ نـو زمـا كـور بـه كنـډر شـو ...... مـا تـه يـاد شـي چـې د شـلګونو دې جنـګ كښـې لكـه مـا د هغـوئ ځوانـه جانـه ښـځه زرګونـه ځلـه كونـډه كـړې وي، لكـه مـا د هغـه زرګونـه، لكونـه بچيـان يتيمـان كړي وي، هم دغه شان هغه هم لكه زما".(7)

همدغسـې د ښـاغلي طـاهر اپريـدى پـه يـوه بلـه افسـانوي مجموعـه " بيـا هغـه مابښـام دى" كښـې هـم د افغانسـتان د كـورني جنګونـو احـوال، بربـادۍ او د تبـاهۍ منـاظرراوړل شـوي دي لكـه: " پـه پينځـه كالـدارو نـوټ " او " امـين " نـومې افسـانو. كلـه چـې پـه كابـل تنظيمونـه ور ننوتـل، انسـان وژنـه، لـوټ او چـور هـره خـوا تـه عـام شـو. د ژونـد د معـاش وسـائل سـره ورك شـول. سـخت ژمـى وو او د يـخ نـه د بـچ كېـدو هـم څـۀ خـاص وسـائل نـۀ وو، نـو دلتـه پـه نـوم مجاهـدينو د ښـونځيو او د پوهنتـون لائبريريـانو څخـه هـم هغـه كـار واخيسـتو كـوم چـې لـه تېلو او لرګيو څخه اخستل يكار وو.

د افغانستان د تهذيب و تمدن، مدنيت او د علم د رڼا ټولې ذرائع هم دغه شان لوټ،چور او يا اور ته ور واچول شوې. چې له دې څخه نه يواځې د پښتونخوا د هغه خوا د شاعرانو او اديبانو اِحساسات مجروح کړې شول، بلکې په کوزه پښتونخوا کښې هم دغه درد څۀ کم محسوس نۀ کړې شو (په مانا د عام اولس). خو ډېرکم خلق په دا پوهېدل چې د دې تر شا اصل لوبه څۀ ده. خو هاغه څوک چې په دې پوهېدل له هغو نه هم ډېرو له وېرې غږ نۀ شو کولی، البته يو څۀ داسې وو چې هغوئي ئې بيا د بيان ضرورت نۀ محسوسولو. خو يوه طبقه داسې هم وه چې هغوی د ملت په دې درد خاموشه نۀ شو پاتې کېدی او هغويو څۀ قدر تاثر ضرور په خپلو افکارو او اثارو کښې محسوس کړی، له هغوئ نه يو هم دا غښتلی افسانه ليکونکی شاغلی طاهر اپريدی صاحب دی چې په خپلو ځينو افسانو کښې ئې د قوم په دې مشکل حالاتو غلی نۀ دی پاتې شوی او د قومي درد اِحساس ئې د خپل فن په ژبه را د بهر کولو زيار کړی، د هغۀ د افسانې يوه ټوټه دلته پېش کوم:

" او بيا د لوړو دنګو غرونو د لمنو نه د شپو او تيارو خاوندانو د نفرت، کرکې، حسد انتقام او د علم د ډيوو په خلاف د بارودو داسې سرۀ اورونه بل کړو، چې کليو، بانډو او په ښارونو کښې تازه بلې ټولې ډيوې مړې او وسوځېدلې .... او د حرفونو، لفظونو احترام او درانښت په خاورو کښې خړ پړ شو، د علم شمعې د جبر تورو تيارو په خپلو ژامو کښې ونغښتې، او د ليکونو خاوندان يا خو د زندان په تورو دريابونو کښې ډوب کړې شول او يا د تورو غرونو په شا وشړلی شول .... "دغه کتاب څۀ بيه لري؟ هغه د سوي بازار د سړك په غاړه د سوو او په لوګيو تورو کتابونو په منځ کښې يو کتاب ته اشاره وکړه .... ".(8)

هم دغسې په " امين " نومې افسانه کښې ئې د افغانستان نوي کهول ته د نوي سباوؤن پيغام داسې ورکړی چې:

"زمونږ سره غټ فريب وشو، مونږ خپل کورونه ونړول، مونږ د بارودو په لمبو د خپلو پټيې فصلونه وسوځول، خپل سرونه مو مات کړل او خپل ضميرونه مو ګانه کړل .... "اوس خو زمونږ سترګې هغه سا پسې هم سپينې

شولې د کوم وعده چې."" زۀ که ماشوم یم، نو نن به یم" ..... "زۀ به سبا زلمی یم، او ځکه زۀ دا خبره په کلکه کوم چې د تیارو خدایان به زۀ وژنم او د رڼا طلبګار به د بندي خانې را خلاصوم. "سبا زما دی د سبا په رڼا زما حق دی او د سبا په لمر زۀ دعوٰی ګیر یم، تاسو دعا کوئ چې زۀ خپل مستقبل په خپل واك کښې واخلم".(9)

څۀ رنګ چې انساني ټولنې دوام د اضدادو په کشمکش پورې مربوط دی، دغه شان د هر عمل په عملي کېدو کښې هم دوه قوتونه صورت نسایئ، یو هغه قوت چې د نفاذ په صورت کښې وي او بل هغه چې د اول قوت په خلاف مقاومت ښائي. دغه شان په انساني ټولنه د انسان په ټولنیز نظام کښې د هر جدت اختراع او نفاذ که هر څومره مثبت او ګټور ولې نۀ وي، په ابتدا کښې سماجي او انساني ذهن د هغې له قبولیت څخه عار محسوسوي. ځکه چې روایات او قدامت کله هم یو دم په یو حرکت سره له ځان نۀ شي لرې کېدلی. البته جدت که چرته په خپل وجود کښې افاقیت او د ټولنیزو ستونځو غوره او فطري صلاحیت لري، نو سماج او انساني ذهن بیا سوکه سوکه او درجه په درجه د هغو د خپلولو تابیا کوي.

د جدیدیت بهیر په ټولنه کښې، په ټولنیز نظام کښې، په ادبیاتو کښې او یا که د ژوند په هر انداز کښې اوکتلې شي نو هغه له زمانې را روان دی. خو د هغو اختیارول چرته کم او چرته بیا زیات اوشي.

د نړۍ د نورو ټولنو په څېر که د پښتني ټولنې د جدت پسندۍ رجحان او څېرول شي، نو له بده مرغه په پښتني ټولنه کښې په هره زمان جدت په یو سم او درست شکل نۀ دی اخیستل شوی، بلکې د ځینو نورو ټولنو په نسبت دلته هر تغیر تر حده زیات ارتعاش پیدا کړی او له ډېرو ستونځو ګاللو وروسته ئې یو څۀ قدر امادګي ورته ښکاره کړې ده. د جدت په مقابل کښې مدافعت یو فطري امر دی خو په پښتني ټولنه کښې دغه مدافعت د نورو ټولنو په نسبت ځکه زیات اثر لري، چې د پښتنو داخلي ټولنیز نظام لا هغه شان نۀ دی پر مخ تګ کړی کوم چې د نړۍ نورو مترقي او یا پر پر مخ تللیو قومونو کښې محسوسولې شي. یعنې دلته داخلي ټولنیزو مسائلو عموماً د دې په مقابل کښې خنډ ان پیدا کړې نۀ چې پښتانۀ بالفطرت . خو تر دې

زيات بل يو ستر علت ئې خارجي هم دی کوم چې د پښتني اقدارو په خلاف په هغوئ ورتپلې شي. په بنيادي توګه پښتني ټولنه کله هم کلك دريځه، رجعت پسنده او يا د مذهبي جنونيت ښکار شوې نۀ ده او نۀ ئې د کلکو فرسوده رواياتو او غير متغير رواجونو پاسداري کړې ده. پښتانۀ د بني اسرائيلو په شان په انتشار کښې د وحدت او اجتماع طلب لري، خو غمِ دوران، غمِ روزګار او غمِ جاه او منصب ئې يوائينې لويه پرېشاني ده چې ورڅخه د نفاق پړي نغړل شوي.

په 1917ء کال اکتوبر کښې کله چې په شوروي کښې داشتراکي نظام انقلاب بريالی شو او په نړۍ کښې د مارکس طرزِ فکر يوه عملي نمونه او ښودل شوه، نو له دې څخه د نړۍ نور ډېر هېوادونه په ډېر لږ وخت کښې متاثره شول او هلته د دې نظام په طرز ځنې رياستي بدلونونه هم رامنځته شول. د نورو قومونو د ادبياتو په څېر ددې فلسفي اثرات په پښتونخوا کښې هم محسوس کړی شو. له هغو اُدباو څخه چې ئې د دې نظرئې افکار ويړيا په خپلو افکارو کښې خورول، له هغو نه عبدالاکبر خان اکبر، صنوبر حسين مهمند کاکاجي په وروستو وختو کښې ښاغلی سليم راز او هلته په کابل کښې د 1965ء څخه را په دې خوا د خلق ډيمو کرټيك ګوند سره تړلي اديبان او شاعران يادېدلی شي. چې د ګوند د تاسيس نه را په دې خوا د کابل واکداره کېدو پورې ئې په هر ډګر د دې نظرئې په غوره توګه پرچار کړی. تر دا چې وروستو د خپل اقتدار په وختو کښې ئې بيا ټوله رياستي مشينري هم ددې د مارکسي فلسفې ترويج ته وقف کړله.

له دې پېښې سره دلته پښتانۀ يو ځل بيا له يو دا رنګه کېفيت سره مخامخ شول لکه د روښانيانو او د اخونيانو په شخړه کښې چې پښتو ادب له دوو مختلفو ډلو څخه په شعوري او يا غير شعوري توګه لويدلی ؤ. په دغه څېر د انقلاب او ردِ انقلاپ په عمل کښې پښتانۀ اديبان په نفسياتي او فکري توګه په دوو متضاد طبقو کښې سره ولويدل. خو تر کومه چې په کوزې پښتونخوا کښې د ترقي پسند يا مارکسي ادب د اختيار د ترويج مسئله په دا مهال کوله. له هغو نه يو ستر شخصيت . ښاغلی سليم راز دی، چې په ادبي افکارو کښې ئې د انقلاب او مارکسزم ازانګې ويړيا او له ورايه ښکاره دي.

خو دا په دې معنا نۀ ده چې سلیم راز په خپلو افکارو کښې يواځې د مارکسيزم پرچار کړی او نورئې څۀ خاص ادبي وظيفه نۀ ده لرلې. خو هغه څۀ چې هغۀ د مارکسيزم او يا د ترقي پسند ادب له لارې پښتو ادب کښې عام کول غوښتي، هغه يواځې هغۀ نۀ دي کړي بلکې دا تر هغۀ د مخه هم نورو ډېرو کړي او بيا به ئې هم نور ليکوالان کوي. ځکه چې مارکسيزم يا ورسره د ترقي پسند ادب هغه وظيفه چې هغوئ ئې ويريا په خپلو افکارو او اثارو کښې بيانوي هغه تر ډېره حده د درست انسانيت د خېر او ښېګړې وظيفه ده. نوسليم راز څۀ چې د مارکسي نظرئې په تاثر کښې او يا د ترقي پسند ادب په تاثر کښې راوړي ، د هغې په بيانولو هغه څۀ ګناهګار شوی نۀ دی. ځکه چې هغه په خپله ټولنه کښې د انصاف، مساوات او د انسان د انسانيت د تقدس غوښتنه کړې ده. هغه د کرکې، نفرت، بُغض، تعصُب، فرقه واريت، زور او جبر او د ظلم او اِستحصال قائل نۀ دی.

"چې کوم نظام کړي استحصال د اولس
تل تري نفرت نفرت به کوو

که مونږ نادار، بادار په دار خېژوي
رازه! د خوارو حمايت به کوو"(10)

هغۀ په خپل وطن کښې د اِستحصالي طبقې د جابرانه نظام له لاسه د اظهار ارائي په مخکښې د خنډونو اچولو پاليسي هم په کلکه غندلې ده او داِستعمار له لاسه د انسان د کړېدلي ژوند او د هغو مجروح شوی اِحساس ته هم متوجه شوی:

"د ژوندون په مری ناستې دي خپسې
د آواز د کښو جرات هم چا کښې نۀ شته

ذهن، زړۀ کښې يو احساس دی په کوکارو
خو، کش کړپ څۀ بهر فضا کښې نۀ شته

د مرګ ويره هر وجود باندې خوره ده
نن وطن چې يوه لويه هديره ده"(11)

چرته چې هغهٔ د انسان او انسانيت غم خوړلی نو ورسره ئې د خپل قوم او ملت د ويښتيا او پر مختيا تدبيرونه هم په نظر کښې ساتلي. يعنې هغه که هر څو يو مارکسي اديب او يو ترقي پسند شاعر دی خو هغهٔ قوم ته شا نهٔ ده ورژغولې. يقيناً يو وخت داسې ؤ چې هغهٔ دا دواړه صورتونه يو شان په خپلو افکارو کښې خپرول :

زهٔ د خوارو او خورو پښتنو غم خورم
زما فکر اولسي دی هم ملي دی

مغلو پير ملامې دې کافر کړي
ما اوس اېښې پل په پل د روښاني، ،دی

تل خوراك به يو انسان د بل انسان وي
چې ترڅو دغه نظام د زرکړي دی"(12)

کله چې تېر شوی بدلون د ټولنې د احساساتو او غوښتنو سره سم چلاند نهٔ شو، مقصد هغه باداري ظلم او تېري عام شو. هرې خوا ګډوډي او اِنتشار را منځته شو نو سليم راز د انقلاب د توقعاتو په برعکس خپل غبر ګون داسې ښودلی:

انقلاب په وطن چاوې چې راغلی دی يارانو!
بادار هغسې بادار دی نادار هغسې نادار دی

څه رنګه چې خولهٔ شم پاتې تنقيد څنګه نهٔ کوم به
په چمن کښې هر طرفته بد نظمي ده اِنتشار دی

څهٔ عظيمه فلسفه ده د پښتون د ژوند کتاب کښې
چې سر خم کړي نو بې سر دی چې سر پرېکړي نو سردار دی(13)

د پښتون ملت د ځورولو او د کړولو تاريخ يو لوئ اوږد داستان لري، دا سلسله چې د پښتون ملت له وجود سره سمه را شروع ده او د پای ټکی ئې لا تراوسه چا ته نهٔ دی معلوم، چې دا ملت به نور څومره پسې ځورول کېږي. که د تېرې زمانې تاريخ ئې په ځای پرېږدو او د شلمې پېړۍ په

وروستۍ لسیزه کښې د شوروي یرغل او پـه یویشتمه پېړۍ کښې ورپسې د ناټو (NATO) لـه یرغل څخه څـۀ جبر چې پـه پښتنو پـه خاوره شوی او یـا کېږي، د هغې څخه یو خوا تـه کـه عـام اولس متـاثره شوی نو بل خوا د ملت پوهـه طبقـه هم پـه ذهني او فکري توګـه لـه دې یرغلونو څخه پـه تکلیف کښې پرېوتې ده. هلتـه بـره پښتونخوا کښې یو شاعر کـه د دې ناوړې اثرات پـه لویـه پیمانـه محسوس کړي نو دلتـه پـه کوزه پښتونخوا کښې هم ځینو داسې شاعران او ادیبان وو چې د دې پېښې لـه اثراتو څخه غافلـه پاتې شوي نـۀ دي. د وطن تـار تـار وجود د راغونـډلو، د وطن د ځیرې ګریوان د بیـا ګنـډلو او د وطن د ټپي صورت د ټکورولو اظهار ئې هم په افکارو کښې لیدل شوی .

پـه دغـه شاعرانو کښې ښاغلی درویش درانـي هم هغـه شاعر دی چې د وطن او د ملت احساس ئې پـه افکارو کښې لوړ ځای موندلی. تر دې چې کـه د ښاغلي درویش دُراني د شاعرۍ واړه مجموعې پـه بې طرفي سره تجزیـه کړلې شي نو د هغـۀ پـه شاعري کـه بې د قومي او ملي شاعري پرتـه نورڅـۀ بـه پـه اوړو کښې د مالګې برابـر وي. د شعر لـړه برخـه بـه ئې خامخا داسې وي چې هغـۀ دې د ناز نینو ناز وړلو تـه امادګي پـه کښې ښودل وي. ولې بالعموم د هغـۀ د شعر موضوعات قومي او ملي خوا زیاتـه لري. هغـۀ واړۀ واړۀ سماجي مسائلو تـه دومره فوقیت نـۀ دی ورکړی څومره چې هغـۀ د ملت او د وطن پـه موضوع د خپل زړۀ خولـه ایستلې ده. ځکـه ئې د شعر ازانګې تر لرې اورېدل کېږي او یو جهان د هغـۀ د شعر پـه تل کښې د خپلې زمانې د دردونو دُرمل لټوي.

ستوري پـه لمن کښې د ښاغلي درویش دُرانـي د اشعارو مجموعـه ده، چې زیاتره پـه کښې غزلې او نظمونـه راوړل شوي دي . د غزل شېریني او د بیان لطافت لـه کبلـه ئې پـه لږ وخت کښې ځانتـه د لوستونکیو یوه لویـه حلقـه پیدا کړې ده. هـر څـۀ چې ئې وئیلي د زړۀ لـه کومې او پـه اخلاص ئې وئیلي . هغـه د لفاظي او د ریا قائل نـۀ دی. درد او احساس ئې د شعر لازمـه او موثره خوا ده. چې د وطن خوارو نغموتـه پـه کښې تر هر څـۀ لوړ او معتبرمقام ورکړی شو. موضوعات ئې پراخ، تخیل ئې بلند، نکتـه شناس او باریك بین شاعر دی. د قوم د احساساتو او د جذباتو نمائنـده او پـه وطن مئین شاعر دی. کـۀ

څۀ هم هغه خاموش طبع انسان دی ولې د شعر څپه ئې کله هم خاموشه نۀ ده پاتې شوې. هر يو غزل او هر يو نظم ئې په زړۀ پورې ښکلا لري ، د قومي، ملي او د وطنيت د جذبې يو څو غزلو او يا نظمونو څخه دا يو څو ئې بيا خاص د يادونې وړ دي لکه ويجاړ وطن، د لستونې مار پټ لاسونه، د کورغل، وروروژنه، سپېرۀ ډاګونه او ځينې نور.

دلته د درويش د شاعرۍ نه څو نمونې پېش کولی شي:

"خدايه په کار د هر سړي د وينو جام دی دلته
زما زخمونو ته د ټولو خلقو پام دی دلته
چې هر سړی دې د خپل قد برابر قبر جوړ کړي
را رسېدلی د قاتل دغه پيغام دی دلته
د تېرو تورو سوداګر دي په دې ډېر خوشحاله
د هر سړي په زړۀ کښې اور د انتقام دی دلته" (14)

په افغانستان کښې د عوامو سره سره د خواصو قتل عام د هغۀ ځای وسائل لوټل او د ظلم او بربريت نقشه د خپل غزل په شعرونو کښې داسې پېش کوي:

"دا چې ځړېږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کښې بس هم دغه وو د کار سرونه
وړي يې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره
کاشکې دا ځل زمونږ غنم وکړي د مار سرونه
د کسو مخ ته مې د اوښکو د ېوال ودراوۀ
کتلی نۀ شول ما په وينو کښې ګلنار سرونه" (15)

کله چې په افغانستان کښې ورور وژنه عام شوه او د انسان نه هغه د بُزکشۍ ګډوری جوړ کړی شو، نودې بدې پېښې چې د هغۀ په زړۀ او ذهن کوم ناوړه اغېز کړی، هغه ئې په خپل يو نظم " کيميا " کښې دا شان واضح کړی.

ما چې ګډې کړې په خاورو د ورور وینې
نو مې ستا په خوا در واړولې سترګې
ته مشغول زمونږ د جنګ په ننداره وې
چې دې ولیده زمونږ توره رنګینه

را خوره دې شوه مسکا پر شونډو باندې
په یوه لاس دې کېمیا کړله را پورته

په بل لاس دې کړه خولۍ پر سر نسکوره
په یوه آن کښې غایب شوې له نظره(16)

د افغانستان د خونړۍ پېښې له اغېز څخه به د ژوند هغه کوم اړخ وي چې هغه دې دروېش له دروېشانه افکارو پټ پنهان پاتې شوی وي. کله چې په افغانستان کښې د خارجي یرغل په مقابل کښې د سخت داخلي مقاومت په نتیجه کښې بالآخر یو وخت داسې حالات پیدا شول چې دا ځورېدلی مخلوق دې بېرته خپل ټغر ته ستون شي. هغه کډې چې له وطن نه بار شوې وې، او د بېرته راستنېدو هیله ئې پېدا شوه او یا خپل وطن ورته په هر زمان خپلې غېږې ته د راستنېدو ارزوګانې کولې. دغه کېفیت ښاغلي دروېش دُراني داسې په خپلو افکارو کښې ښکاره کړی.

موسم بدل دی ښایي تللي مرغان بېرته راشي
و خپل وطن ته د کډوالو کاروان بېرته راشي(17)

او دا شعر چې:

دروېشه! داسې به و نه شي چې زمونږ هډیرې
سپین ږیري وګرځوي تول، او ځوانان بېرته راشي(18)

وسله، توپ او توفنګ د جنګ ذرائع وې او انسان ئې د اِیندهن په توګه په کار راوستې شي. دا دجنګ نغارې چې غږول کېږي دا بې له دې نور څه نه وي خو محض د یو څو غټ خېټو، مذهب پرستو او شتمنو د شتمنیو د

تحفظ وي. د تنکی ځوانانو مېندې که وربانډې بُورې شي نو ځۀ که د هغوئي تنکی ځوانی له خاورو سره خاورې کړل شي نو ئې د دوئي په دې ځۀ. ښاغلي دروېش دُراني په خپلو اشعارو کښې دغه رنګه حالاتو يو ځای داسې ذکر کوي:

جنګ ته يې استوي ځوانان تر سپين قرآن وباسې
له دغه ښکه کاره تۀ مګر خپل ځان وباسې

هسې به مونږ او سپېرۀ وخت سره بدنيتي کړې نور
نۀ به سپرلی را ولې تۀ، نۀ به خزان وباسې(19)

خو له بده مرغه که دا وواېو چې د پښتو د ننګ دغه غم خورده شاعر د پښتون په کور يرغل که په خپله د پښتون په زور بَللی، نو دا به په کُلي توګه درسته نۀ وي، ځکه چې دا هر څۀ د (Forword Policy) ، داشتراکيت د غزېدو، د سرمايه دارانه نظام د اِستعمارانه پاليسی او د نړی د لويو سنډاګانو د ډغرې وروستي مورچل د پاره دغه خلق او هم دغه خاوره له ډېره پخوا ټاکل شوې وه. دلته نۀ د کوزې خوا قصور ؤ او نۀ د بره خوا. البته د دې شدت د کمولو تدبيرونه کېدلی شول، خو د پښتنو د لاعملی له کبله هغسې اونۀ کړی شول.

دښمن په زوره ننوت په کور د پښتانۀ
خو دغه کار يې هم وکړ په زور د پښتانۀ (20)

په دا اړه ځنې نور داسې شاعران او اديبان هم شته چې هغوئ په فکري توګه له دې واقع څخه متاثره شوي او په خپلو اثارو کښې ئې د دې پېښې په اړه اظهار کړی. د پښتونخوا له هغو شاعرانو څخه چې د خپل وطن په دې ستر ناورين ئې د زړۀ وينې څڅولې ، له هغو نه ښاغلی سعيد ګوهر صاحب هم دی. چې د خپل سنجيده شعر په وړمو کښې ئې د وطن او د پښتنو د وينو په ارزيابي غلی نۀ دی پاتې شوی. .

**افغانستان ته دعا** : **نظم**

ثور انقلاب راغی
او بيا په انقلاب هم انقلاب راغی
انقلاب ولاړو واپس

سپور په ټينکونو باندې
له خپلو وارو عزائمو سره
خو نن چې کوم د فرقه خوښو تنګ نظرو
اسلاميانو تر ميان، قتل جاري دی
که به دا وخت وي د قبلولو
مهربانه خدايه!
په پښتونخوا باندې د امن پسرلی را وله (21)

د ښاغلي سعيد ګوهر يو بل نظم "زما د ګل افغانستان ګلانو" کښې هغه د افغانانو خپل منځي جنګ جګړې، قتل، مقاتلې او د نفاق خاتمې ته په دې خواست دی:

افغانانو! که د مور پې مو وي رودلې
افغانانو! په رښتيا که پښتانهٔ يئ
افغانانو! په پښتو که مو ايمان دی

بايد چې پوهه شئ
افغانانو! يو شئ

توبه توبه په خپل وطن شواخون
د بل دپاره خپل بازو ماتول
دانشمندي نهٔ ده
پښتو نهٔ ده، پښتو نهٔ ده، اسلام نهٔ دی(22)

دغه شان د افغانستان د دې ناوړې پېښې ژور اثرات زمونږ د ځوان کهول په تخليقاتو کښې هم ليدل کيږي، د ځوان کهول له داسې شاعرانو نه يو ښاغلی حافظ رحمت نيازي هم دی چې دغه هرڅهٔ يې ډېر په شدت سره محسوس کړي دي.

د مزار شريف يا د دښت ليلی د شهيدانو ټول داستانونه چې د هغه تنکيو مجاهدينو او په دين مينو منورينو پښتنو د اسلامي جذبې، د افغانستان د وحدت او د وطن د سالمتيا يو لاثاني تاريخي باب تشکيل کړي. او د هغو تنکيو مجاهدينو په دې سانحه يقيناً چې د هر انسان زړهٔ

دردېدلی، حافظ رحمت نیازي په خپل یو نظم کښې دغه خاکه داسې پېش کړې ده:

هغـــــه کــــه وو د عقیــــدې مینـــــان
دا هــــم منکــــر لــــه عقیــــدې نــــه نــــۀ وو

هلتــــه کــــه ســـرۀ وو شــــهیدان پــــه وینــــو
دلتــــه هــــم جــــوړ ؤ د ســـــرونو قطـــــار

هغــوئ کـــه تیــټ نـــه کــړ لـــه تـــورې نـــه ســـر
دوئ هــم پــه وینــو کښــې ګــولۍ ســرې کــړې

بلکــــې کــــه ووایــــم د دواړو پــــه حــــق
داســـې نـــو هـــم خطـــا بـــه نـــۀ یمـــه زۀ

د دواړو یـــــــو هـــــــدف یـــــــوه لاره وه
دواړو د امــــــن ترانـــــــې ویلـــــــې

دواړه د ظلـــــم د خــــلاف خــــلاف وو
فقـــط پـــه ځـــای او پـــه مقـــام کښـــې فـــرق ؤ

چـــا د "احـــد" پـــر خـــاوره وینـــې تـــوی کـــړې
چـــا پـــه مـــزاره کښـــې ســـرونه ورکـــړل (23)

هم دغسې په دې لړ کښې یو شمېر نور شاعران او ادیبان ذکر کېدلی شي خو د مقالې د طوالت له خاطره ددې په تفصیل څخه تېرېږو.

## نتیجه

د 1978ء کـال څخـه را پـه دې خـوا د افغانسـتان د پېښـو پـه رڼـا کښـې کـه د دواړو خـوا پښـتو ادب یـوه عمـومي جـائزه واخسـتله شـي نـو پښـتو ادب او پښـتانۀ ادیبـان پـه ذهنـي او فکـري توګـه پـه دوو ډلـو کښـې ځلـه وېشـل شـوي. یـو هغـه چې د انقلاب ملاتړ بـه ئې کولـو او بـل هغـه چې د ردِ انقـلاب او یـا د جهـاد پـه تـرویج کښـې ئـې شـپه او ورځ یـوه کـړې وه. دا دوه ډولـه مکتبـه فکـر پـه افغانسـتان کښـې یـو بـل تـه ډېـر پـه شـدت سـره مخـامخ شـوه، ولـې پـه کـوزه

پښتونخوا کښې د دې هغه اثر نه دی پاتې چې هلته په بره خوا کښې محسوس شوی. ځکه چې دلته د وخت او حالاتو ستم د ورورۍ درد په هغه شان نه دی پرې ایښی، څه ډول چې ورڅخه طمع کېدله. هم دغسې ئې په ادب کښې هغه شان جوش او جذبه نه ده محسوس کړل شوې، څه ډول چې د هغه خوا په پښتو ادب کښې په لوئ شدت او جذبه سره راپورته شوې. د دې یو علت خو دا هم کېدلی شي چې په کوزه خوا کښې اکثره ادیبان د دې لوبې له نړیوال اثراتو څخه نا خبره وو، هغوئ په ذهني او فکري سطح د خپل چاپېریال نزدې حالاتو ته زیات متوجه شوي، په نسبت د دې لوئې پېښې. هغوئ دا مسئله په صحیح او اصل صورت کښې اونه سنجولی شوه، بلکې دا ئې د لږ وخت یوه محدوده علاقائي مسئله شمارله. چې ډېره زر به انجام ته اورسېږي. بل دا چې د کوزې پښتونخوا نور اکثرو لیکوالانو (پرته له یو څو) هغه شان قومي او ملي سوچ نه لرلو کوم چې هلته لیدل کېدهٔ. او نه دلته په دغه زمانه هغه د خدائي خدامتګارو له شاعرانو او ادیبانو دومره په کثرت پاتې وو چې ئې په دا ناورین کښې د بره خوا ورونو ته لاس ور غزولی وی.

ځینې بیا هغه وو چې د وخت او د نظام خامخا تابعداري ئې کوله، څهٔ هغه وو چې د نس په غم پسې ړاندهٔ وو. خو دا به د حالاتو ستم ظریفي وه یا د پښتنو ادیبانو غفلت چې د ورور والی تړون ته ئې په نهٔ څهٔ غفلت سره ستر زیان اورسولو. ځکه چې له دې سره نهٔ یواځې د دوو منطقو د ورونو لرلې والی نور سره لرې کړې شو. له دې سره نهٔ یواځې په نفسیاتي توګه بلکې په ادب کښې هم د واضح بېلتون را ښکاره شو. هغه د پښتو او د پښتنو د وحدت تصور او د یو مرکزیت تصور په خطر کښې پرېواتو. نو کله چې د یو قوم د وګړیو تړون په ذهني او فکري توګه له یو مرکزیت څخه لرې کړی شي، بیا نو هلته په قومي، ملي، ژبني، نسلي، جغرافیائي او اقتصادي اُمورو کښې هم اهنګي راوستل تر هر څهٔ ګران او مشکل کار شي.

***

# حوالې

۱: اجمل ختټك، دافغان ننګ، خپروندوي پخپله، ۱۹۹۷ء، مخ، ۳۰.

۲: دغه بره، مخ، ۱۷۶

3: دغه بره، مخ، 32

4: فاروق سرور، ګرګی ګېږکه، سکام ادبي اکېډمي کوټه، 2005ء، مخونه، ۲۹ــ۲۸

5: دغه بره، مخ، ۳۵، ۳۱

6: طاهر اپریدی، په زنځیر تړلی خوب، جرس ادبي جرګه کراچۍ، 2004ء، مخ، ۹۰

7: دغه بره، مخ ، ۹۳، ۹۲

8: طاهر اپریدی، بیا هغه ماښام دی، جرس ادبي جرګه کراچۍ، 1998ء، مخ، ۷۱ــ۱۷۰

9: دغه بره، مخ ، ۱۹۸، ۱۹۵

10: سلیم راز، زۀ لمحه لمحه قتلیږم، یونیورستي پبلیشرز قصه خواني بازار پېښور، 2007ء، مخ ، ۲۶

11: دغه بره، ۵۳

12: دغه بره، ۷۶

13: دغه بره، ۹۷

14: درویش دراني، ستوري په لمن کښې، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 2000ء، مخ، ۲۴

15: دغه بره، مخ، ۶۵

16: دغه بره، مخ، ۲۵ــ۱۲۴

17: درویش دراني، کاڼي کښې هینداره، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 2002ء، مخ، ۲۷

18: دغه بره، مخ، ۶۳

19: دغه بره، مخ، ۶۵
20: دغه بره، مخ، ۳۲
21: سعید گوهر، په څیرې لمن کښې امید، سکام ادبي اکېډمي، 2000ء، مخ، ۶۷
22: دغه بره، مخ، ۹۹
23: نیازی، حافظ رحمت، د هیندارو تر بازاره، ملا ظریف اخوند کاکړ فاؤنډېشن، 2010ء، مخ 65